مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن. رناګل اریوبزی
۲۰۲۱/۱۱/۱۹

# زوړ سلطان

## د ما شومانو له پاره لنډه کیسه

یو وخت یو بزګر یو وفادار سپی در لوده او دا سپی سلطان نومیده. خپل ښبنتن ته د ډ یر خد متو نه وروسته، سلطان زوړ شوی و، داړې یې لویدلی وې، له ښکاره او له کاره لویلی و .یو ځل بزګر دخپلې میرمنې سره د دروازې په خوله کې ولاړ واو ویل یې چې:« سبا دا زوړ سلطان په ډزو وژنم. دی نور د هیڅ له پاره په ښه نه راځې.» میر من یې، چې د وفا دار سلطان سره خوا خوږې درلوده، و ویل چې »:ده ډ یر کالونه زموږ خدمت وکړاو تل راته وفادار پاتې شوی دی، نو که اوس زوړ شوی اوله کاره لویدلی هم دی، باید ویې ساتو «.بزګر میرمنې ته و ویل چې:« ای داخه وایې، ته له سره نه پوهیږې؛ دا سپی په خوله کې یو غا ښ هم نه لرې، هیڅ غل له هغه نه ډاریږي، اوس باید له دې ځایه ورک شي. که ده زموږ خدمت کړی دي، موږ هم ښه خواړه ورکړي او ښه مو ساتلی دی «.بې وزله سپی، چې هلته چیرته نږدې لمر ته غځیدلی پروته و، دا هرڅه واوریدل اوپه دې ډ یر غمګین شوچې سبا به یې د ژوند وروستې ورځ وي .ده یو ښه انډیوال درلود او هغه یو لیوه و. د ماښام له خوا په ځنګل کې لیوه ته ورغی او خپل برخلیک یې ورته بیان کړ چې سبا په ده څه راځي .لیوه ورته و ویل چې:« واوره انډیواله، زړور پاتې شه،زه غواړم چې په خپله مرسته دې له دې تنګسې نه راوباسم. ما یوه چاره سنجولې ده. سبا وختې ستا ښبنتن د ړخپلې میرمنې سره په واښو پسې ځي. دوی خپل ماشوم هم له ځان سره اخلې، ځکه چې په کور کې دهغه دسا تنې له پاره څوک نه پا تې کیږي .دوی ماشوم د کار په وخت کې د ویاړې تر سیورې لاندې اچوي .ته یې تر څنګ داسې پریوزه چې ګوندې په هغه پام کوې .زه د ځنګل نه راوزم اودا ماشوم تیښتوم، ته به په خپل ټول ځواک په ما پسې منډې کړې او وبه ښیې چې ګوندې د مانه داماشوم خوشې کوې. زه به ماشوم خوشې کړم او ته به یې بیرته مور او پلارت ور وړې .

دماشوم مور او پلار به فکر وکړي چې ګوندې ماشوم تا ازاد کړ، د تل له پاره به دې مننډوی وي، کوم زیان به در ونه رسوي اوتر دې چې ښیګڼې به هم در سره وکړي او هیڅ به در څخه دریغ نه کړي.» دامشوره د سپي خوښه شوه او څه چې سنجول شوې و، هغه یې عملې کړل. کله چې بزګز لیوه ولید چې ماشوم یې په خوله کې په پټیو کې منډې وهې نو چیغې یې کړې او کله چې سلطان ماشوم بیرته ورته راوړ، نو لاس یې په تیر کړ او ویې ویل چې.« ستا یوه ویښته ته به هم زیان ونه رسیږي او ترڅو چې ژوندی یې، که کار ونه کړې هم، خواړه به در رسیږي «.بیایې میرمنې ته غږ کړ چې دسلطان له پاره ډودۍ په شیدو کې ښه میده کړه چې په خوله یې ژولو ته اړ نه شي او زما له بسترې څخه بالښت هم د ده خوب ځای ته راوړه، دا دې د ده تحفه شي «.سر له دې ورځې د زاړه سلطان ژوند دومره ښه وچې په خوب کې یې هم نه و لیدلی .

ډیر وخت لا نه و تیر شوی چې لیوه د ساطان لیدو ته ورغی او په دې ډیر خوښ و چې پلان یې سرته ورسید .لیوه سلطان ته و ویل چې:« دوسته! که زه کله ناکله وغوړم چې د ستا ښبنتن له رمې کوم یو څورب پسه له ځان سره یوسم، نو ته خو به په دې وخت کې خپلې سترګې یو څه پټې کړې. نن سبا دژوند چاره سخته شوې ده.» سلطان ځواب ورکړ چې »:له ما به دا تمه نه کوې ، زه خپل ښبنتن ته وفادار پاتې کیږم او د دې کار اجازه نه در کوم «.لیوه فکر وکړ چې سلطان خوشې ټوکې کوي، په همغه شپه په پټه راغی او غوښتل یې چې د رمې نه یو پسه د ځان سره یوسې، خو وفادار سلطان خپل ښبنتن د لیوه له نیت نه تکي په تکي خبرکړی و، نو ځکه بزګر هم ورته چمتو شوی واو دغنمو ټکولو په دبې یې دلیوه ویښان ښه ږمنځ کړل .لیوه تیښتې ته مجبور شو، خو سپي ته یې ور ناره کړه چې:« لږ تم شه، ته بد کاره انډیواله، د دې کار غچ به در نه واخیشتل شي «!

لیوه په بل سبا وحشي خوږ سلطان ته ور ولیږه، هغه یې ځنګل ته راوغوښت، تر څو یې هلته سره مالومه کړي . زاړه سلطان بی له یوې پشې بل ملاتړ نه در لود او دې پشې هم یوازې درې پښې درلودې .کله چې دواړه راو وتل او د مقابلې ځای په لور روا ن شول، پشه ننګوښیده ، په لاره ګوډه ګوډه تله اوله ډیرو خوږو یې لکۍ نیغه پورته ونیوه .لیوه او ملاتړ یې هم ټاکلې ځای ته راغلي وو او کله چې یې مقابل لوری دراتګ په حال کې ولید، نوډیر وډار شول، ځکه چې دوی ته د پشې نیغه پورته کړې لکۍ کرچ (توره) ښکاریده او فکر یې کاوه چې په دوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پسې يې راوړي او په وهې يې اودا چې بې وسه پشه په درو پښو ګوډه ګوډه تله او ورسره سم کته او پورته کيده، دوی ته داسې ښکاريده چې ګوندې په هرځل له مځکې ډ برې را پورته کوي او راټولوي، تر څو چې موږ په و ولې .دوی دواړه سخت وډار شول: وحشي خوږ دونو پاڼو کې ځان پټ کړ او ليوه په يوه ونه پورته شو .کله چې سپی او پشه ټاکلي ځای ته را ورسيدل، دواړه حيران شول، ځکه چې په دې ځای کې هيڅوک نه ليدل کيدل .وحشي خوږ ټول ځان د ونو په پاڼو کې نه شو پټولی او غوږونه يې بوخ راوتلي وو. پشې په ځيره شاو خوا کتل، چې په دې وخت کې خوږ غوږونه وخوځول .پشې ګمان وکړچې ګوندې موږک خوځيږي، په ور ويې دانګل او په خپلو غاښو يې سم وچيچل. وحشي خوږ چيغې کړې، پورته شو ، وتښتيد اوناره يې کړه چې:« اصلي ګناه کار په ونه کې ناست دی.» سپي او پشې ونې ته وکتل او ليوه پکې وليد. ليوه په خپل ډار وشرميده او دسپي سره يې سوله ومنله .

ليکونکي Brüder Grimm

ژباړن. رڼاګل اريوبزی

Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ